بسم الله الرحمن الرحیم

په ساختماني پروژو کی د چاپیریال د ککړتیا څخه مخنیوی

لمړی باید ووایم چې موږ باید د چاپیریال سره Friendly ووسو چون موږ په ساختماني پروژو کی کارو کوو نو باید د چاپیریال د ککړتیا دمخنیوی په برخه کې باید خپله دنده ادا کړو د یوی پروژی په جریان کی لاندی ککړیتاوي رامنځته کیږی او موږ باید ورته تو جو وکړو او دحل لاري ورته پیداکړو:

۱ – په یوه پروژه چی کله کندنکاری کوو نو زیاتي دوړی او ګرد رامنځ ته کیږی کله چی اکسکواټور،لوډر او نور غټې مشنري کار کوی لمړی باید ساحه اوپآشی کړو تر څو ګرد او دوړی یی محیط او خلک یی له ضرر څخه خوندي پاتی شی .

۲ – کله چی لوی ماشینري کار کوی نو زیات شور کوی نو ددې لپآره چی خلک له شور څخه محفوظ شی نو Sound barrier سیتم چار چاپیره له هغې ساحی نصبوو چی ساختماني پروژه پکې عملي کیږی.

۳ – کله چی ساختمانی پروژي تطبیقوو نو باید د شنو بوټو د وهلو څخه ډډه وکړو او یو داسی ځای ورته انتخاب کړو چی په لمړی قدم کی یی د وهلو څخه ډډه وکړو او که زیات مجبور شو نو داسی ځای انتخاب شی چی زیات بوټي پکې له منځه لاړ نشی د پروژې له تطبیق څخه وروسته بیا نور بوټي کینوو.

۴ – پروژه کی چی له غذایی موادو استفاده کیږی کوم چی له خوړولو ورسته پاتی کیږی یو مناسب ځایی کې واچول شی چی محیط ککړ نکړی او کومه وچه ډوډۍ چی پآتی کیږی هغی لپآره یو مناسب د د ساتلو ځای انتخاب کړو کولای شو هغه حیوانات چی په کورنو کی ساتل کی د هغوی لپآره تر ی د غذایی موادو او همداشان د ماهیانو په فارمونو کې ترې د ماهیانو لپاره د غذایی موادو په توګه استفاده وکړو هم به محیط له ککړتیا څخه ساتلي وی او هم به مو اقتصاد ته ګټه رسولی وی .

۵ – کله چی ساختمانی پروژه پلې کیږی هلته د اوسپنی ټوټې پاتی کیږی او ساختمان کی تری استفاده نه کیږی باید هغه راجمع کړو او داوسپنې میل ته یی انتقال کړو هم به مو محیط له ککړیتا څخه ژغورلي وی او هم به مو داوسپنی د پآتي شویو مواد Recycle کړی وی .

۶ – طبعا کله چی ساختمانی پروژی ته خوارکي توکي راوړل کیږی نو له پلاستیکي خریطو څخه استفاده کیږی نو دهغی لپآره باید د ساتلو یو محفوظ ځاي په نظر کې ونیول شی کوم چی تر استفاده کیږی له هغی څخه کار واخلو او له کوم څخه چی دوباره استفاده نه کیږی هغه د اوسیدو له ځای څخه په لیری فاصله کی اول وسوځوو او بیا خښ کړو.

۷ - کله چی پروژه تطبیق شی نو ټوله ساحه باید له هرډول کثافاتو پاکه شی کوم څیزونه چی چی دوباره د استفادی وړ وی له هغی استفاده وکړو او کوم څیزونه چی نه وی هغه د اوسیدو له ساحی څخه په یوه لیرې سیمه کی خښ کړو چی محیط له ککړتیا څخه مخنیوې وشی